احسان الله آرینزی ۲۰۱۶/۰۴/۱۱

ښه او بد فال

له نن څخه شپږ دېرش کاله مخکې؛ زه د ملګرو ملتونو د یو درې میاشتنی درسي پروګرام له پاره هند ته لاړم. پروګرام نظري او عملي برخې درلودې چې په ډیلي، بمبیي، پونه، میسور او بنګلور کې په پام کې نیول شوی او خورا ګټوري وې. زه دلته نه غواړم د هغو ورځو په هکله څه ولیکم، اصلي مطلب مې دا دی چې زه د پرواګرام په مینځ کې یو ځل د خپلې ویزې یا کوم بل کار له پاره د افغانستان سفارت ته لاړم.
کوم کسان چې هغه وخت یې ډیلي ته تګ راتګ درلود، په دې پوهېږي چې د افغانستان سفارت د نوي ډیلي په دیپلوماتیک زون کې د شوروي اتحاد او امریکا (متحده ایالات) د سفارتونو په منځ کې موقعیت درلود.
ښایي دا موقعیت به تصادفي و؛ خو زما ښه په یاد دي چې ما د افغانستان د بیرغ څنګونو ته د شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالاتو بیرغونه په ښه فال ونه نیول او فکر مې وکړ لکه چې یو وخت د برتانوي هند او روسیې د پټو سیالیو او موخو په اور کې وسوځېدو؛ کیدای شي دا ځلې د امریکا او شوروي اتحاد د سیالیو په ژرنده کې دل شو او...
له بده مرغه چې هغه بد فال رښتیا شو او موږ د شوروي اتحاد او امریکا د تاریخي، ستراتیژیکي، ایدیالوژیکي، جیوپولیتکي او پوځي سیالیو قرباني او د وینو او اور په داسې سمندر لاهو شو چې دا دی اوه دېرش کاله وروسته؛ لا سمه لار نه وینو. له یو کوهي څخه لا نه و راوتلي چې په بل کې لوېدلي یو او نژدې دی چې د یو سرلوړی ولس او وطن په توګه خپل ژوند ته د پای تکی کېږدو!
په هر صورت د شوروي اتحاد او امریکا متحده ایالاتو د سفارتونو تر منځ د افغانستان د سفارت د موقعیت د بد فال لنډکی کیسه مې ځکه ولیکله چې اوس مې د رڼا یو څرک لیدلی او دا ځلې مې دا په ښه فال نیولی. راځي چې تاسی هم پرې خبر کړم.
څو میاشتې مخکې یو ځوان افغان بوکسر سیر بهادر زاده، په امریکا کې د UFC ټولنی په یوه لوبه کې له امریکایي براندن تاچ سره لوبه وکړه او هغه یې په درېیم روند کې له داسې ماتې سره مخامخ کړ چې له ځایه د پاڅېدو نه و!
د سیر بهادرزاده او براندن تاچ د سوکونو او لغتو مسابقې ته په زرګونه نندارچیان ورغلي وو؛ خو امریکایي تاچ په درېیم روند کې ماته وخوړه او ځوان سیر بهادرزاده په داسې حال کې چې د ګران افغانستان تور، سور او رزغون بیرغ یې په ځان پېچلی و؛ د ژوندی دې وي افغانستان ناري و وهلی او زموږ د خلکو په زړونو او اذهانو کې یې مړاوي هیلې بیا ژوندی کړې.
اوس ګوری چې څو ورځې مخکې یو بل ځوان بوکسر، بازمحمد مبارز، ماسکو ته لاړ چې له خپل روسي سیال امیر ستاروف سره ورته (مشابه) سیالي وکړي. دا مسابقه په ماسکو کې جوړه شوې وه او د رسنیو په وینا څه باندې دوولس زره کسان ورغلي وو چې دوه – دوه نیم زره پکې افغانان وو.
د خدای کړه و، د بنده ورته کاته و. بازمحمد مبارز په ماسکو کې خبره له دریو روندونو هم را لنډه کړه او روسي امیرستاروف یې په دوو دقیقو کې له رینګ څخه ویست!
زه نه پوهېږم چې په ډیلي کې د افغانستان سفارت د موقعیت او په امریکا او روسیه کې له براندن تاچ او امیرستاروف یا په بله ژبه له روسي او امریکایي اتلانو سره د افغانستان د ځوانو بوکسرانو د مسابقو او برياوو تر منځ کومه منطقي اړیکه شته که نه؛ خو زما مطلب دا دی که ما په ډیلي کې د افغانستان سفارت موقعیت په بد فال نیولی و؛ دا ځلې د سیر بهادرزاده او بازمحمد مبارز تاریخي برياوې په ښه فال نیسم او هیله لرم چې نوی کال مو په خیر پیل شي؛ د افغانستان دردېدلی او ځوریدلی خلک ښه خبرونه واوري، مثبت بدلونونه راشي او د وینو او اور له دې ژور تالاب څخه د وتلو لار وموموا!

یاهو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ